انجمن اجتماعی زحمتکشان افغانستان


۱۹ جولای ۲۰۱۱

## د ښاروالۍ د تنظیف بې وزله کارګران

ویل کیږی چې په هیواد کې ۶۶ سلنه وګړی په فقر او غربت کې ژوند پرمخ وړی چې له امله یې دوی دې ته اړ دی چې دراندہ کارونه وکړی، خو د خپلې خیټې څه چاره یې پرې وشي.

د دغو بې وزلو خلکو څخه موږ دلته د ښاروالی د تنظیف د کاریګرانو یو مثال راوړلی شو، چې د بیکارۍ او بې وزلی له امله یې دغه کارونو ته مخه کړې ده، خو د خپلو کورنیو څه اړتیا پرې پوره کړی.

دغه کاریګران چې له سهاره تر بیګاه پورې په کم معاش په کوڅو او سړکونو کې ښځلې راټولوی او د سړکونو د غاړو د نالو ختې پاکوی، ډیر تریخ ژوند لری، دوی وایی چې د کورنی د وګړو شمیر یې ډیر دی او د ښاروالی په دغه معاش یې چاره نه کیږی.

د ښاروالی د تنظیف د کاریګرانو په یو ټولنځی کې چې کاریګران هلته د سهار له مخې د حاضری لپاره راټولیږې د تنظیف د نارنجی رنګه یونفورم په غاړه، په ا وږو د کار بیلونه او ورسره توری موزې په پښو، په کوڅو او سړکونو کې د پاک کاری لپاره خوریږی او ماښام ناوخته سره بیرته راټول او د خپلو کورونو پر لور درومی.

له دغو کاریګرانو څخه یو تنکی ځوان چې ماښام ناوخته د خپل کور په لور روان وویل: زما نوم خیرمحمد او د ۱۷ کلونو په منګ یم، زه په کور کې د سر سړی یم او مجبور یم چې کار وکړم.

هغه زیاتوی، د بد اقتصادی وضعیت له امله ښوونې او روزنې ته لاسرسی نه لری او بل دا چې کاری ساحه ورته هم نشته چې هغه په کې د شاګردۍ په توګه کار وکړی او د کوم کسب او کار خاوند شي: مجبور وم چې د ښاروالۍ دغه کار ته مخه کړم، خو د کور ګوزاره مو پرې وشي.

خیرمحمد وایی، په دغه کار باندې فخر کوی، ځکه چې ټولنې ته خدمت دی، خو له بده مرغه چې معاشونه یې ډیر کم او استثماریږی.

په ریښتیا هم په دې شرایطو کې چې د سړکونو او کوڅو وضعیت خراب او د کانالازیسیون او میکانیزه سیستم د نه شتون له امله دولت باید د دغو کاریګرانو معاشونه لوړ او د ژوند ښې آسانتیاوې ورته برابرې کړی، ځکه چې دوی اوسمهال د ښار په پاکوالی ښه کې رول لوبوی.

د کابل ښار چې د یو ملیون وګړو د ژوند ظرفیت یې درلود، خو اوسمهال په کې شاوخوا تر پنځه ملیونه وګړی ژوند کوی او ترڅنګ یې د سړکونو او کانالازیسیون وضیعت یې له صفر سره ضرب دی، نو دولت ته په داسې حالاتو کې په کار دی، چې دغو بې وزلو کاریګرانو ته د ښار د پاکوالی د یو ښه پلان ترڅنګ، ښه معاشونه وټاکی، څو دوی د خپلو کورنیو اړتیاوو ته ځواب ووایی.

دغه راز طبی کارپوهان وایی، چې اوس مهال له هر څه نه د خلکو روغتیا ارزښت لری او دغه کارګران چې شپه او ورځ د ښار په پاکوالی کې نه ستړې کیدونکی ګامونه اخلی، نو دولت ورته باید جدی پام راواړوی، څو د دوی ژوند ښه او نور خلک هم دې د ښاروالی د کارونو پرمخ وړلو ته وهڅول شی.

ډاکټر محمد رضا وایی، په هره ټولنه کې جنګ او جګړې، د سیاسي او اداري نظام ضعیف والی، فقر او غربت پیاوړې کوی. په داسې حال کې چې فقر او غربت د ټولنې د بدبختی لامل ګرځې او د وګړو غرور له منځه وړی، دوی پردیو ته اړ باسې، ټولنیز او اقتصادې پرمختګ نشې کولای او پدې توګه یې ملی هویت هم زیانمن کیږی، نو دولت مکلف دی چې دغې ته ورته کاریګرانو ته کاری ساحه او آسانتیاوې چمتو او ځان د ناامنیو څخه وژغوری.